**د ملګرو ملتونو د مرستي پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
**برېښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب سایټ:** http://unama.unmissions.org


## د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی نوی مرستیال ل هیواد ته راورسید

**د جون د میاشتي دوهمه، ۲۰۰۹ کال، کابل**- د افغانستان لپار ه د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړی استازی نوی مرستیال ښاغلی پیټر ګالبریټ نن هیواد ته د دې ژمني سره چې د عادي افغانانو اندیښنو ته به له نږدې غوږ نیسي، راورسید.

ښاغلي ګالبریټ وویل: "زه افغانستان ته د دې هیواد د خلکو، مذهب او تاریخ لپاره د زیات تحسین او درناوی سره راغلم. زه غواړم چې د عادي افغانانو اړتیاوو ته له نږدې غوږ ونیسیم او د ټولو افغانانو د ملاتړ لپاره هڅي ګړندۍ کړم. زه د عمومي منشي، د نوموړي د ځانګړی استازی ښاغلی کای ایډه او د نړیوالي ټولني د ملاتړ او باور په هکله خوښ یم. زه په راتلونکو اوونیو او میاشتو کي د افغانستان د حکومت او خلکو سره د کار کولو په هیله من یم."

ښاغلی پیټرګالبریټ به د یوناما د سیاسي چارو د برخی کوم چې د سیاسي لاس رسي، شخړو د حل لارو، بې وسلي کولو، سیمه ییزې همکارۍ او همدارنګه د ټول ټاکنو د ملاتړ د واحد او پوځي مشورتی واحد مشري په غاړه واخلي.

په دې واحد کي د حکومت کولو، د پولیسو مشورتي برخه او د قانون د حاکمیت واحد کوم چې په دغو سکټورونو کي د ادارو د جوړولو لپاره د نړیوال ملاتړ د همغږي کولو مسوولیت لري، شامل دي.

ښاغلی ګالبریټ یو امریکایي تبعه چې د ډیرو کلونو د بشردوستانه او امنیتي پالیسی تجربه لري د ملګرو ملتونو د سرمنشي له خوا د ۲۰۰۹ کال د مارچ په ۲۵ نیټه وټاکل شو.

دلته د هغه د ټاکني ترمخه ښاغلی ګالبریټ د مشر ډیپلوماتیک کارپوه په توګه د وسلو د کنترول او نه خپراوي په مرکز کي دنده ترسره کوله او د ویندهام د څیرنیز ګروپ د ایل ایل سي بنسټ ایښودونکی و، دغه یو شرکت دی چې د نړیوالو مذاکراتو لپاره تخصص لري. هغه همدارنګه د عراق د جګړې په اړه د دوو د پام وړ کتابونو لیکوال هم دی.

ښاغلی ګالبریټ وړاندې په ختیځ تیمور کي د ملګرو ملتونو د انتقالي اداري لپاره د سیاسي، اساسي قانون او ټول ټاکنو د چارو د څانګې د رئیس دنده هم درلودله او د هغی سره سره یې په ۲۰۰۰- ۲۰۰۱ کی د ختیځ تیمور د انتقالي دولت د کابیني د سیاسي چارو غړیتوب درلود.

په ۱۹۹۳- ۱۹۹۸ کلونو کي هغه په کرواسی کي د امریکا د متحده ایالاتو د لومړنی سفیر دنده درلودله او په ۱۹۹۵ کال کي د اردوت د موافقي لپاره برخه وال منځګړي وو چې د کرواسی جګړه یې پای ته ورسوله. د ۱۹۷۹- ۱۹۹۳ کلونو کي هغه د امریکي د متحده ایالاتو د سنا د مجلس د بهرنیو اړیکو د څانګي مشر مشاور وو چې د نږدې ختیځ، جنوبی اسیا او نړیوالو سازمانونو لپاره یې مسوولیت درلود.